


Scanned with CamScanner

# ډالۍ

د پښتو کتابونو د ژباړې په برخه کې وړ کس

ښاغلي میراحمد یاد ته



چې پخپلو ژباړلیو کتابونو یې د پښتنو ځوانانو ژوندبڼه ور بدله کړې او کتاب‌لوست ته یې هڅولي!



Scanned with CamScanner

## لیکلړ

سریزه ........................................................ ٦
لومړی څپرکی ................................................ ٧
ولې باید مطالعه وکړو؟ ........................................ ٨
ځکه چې لوستل او مطالعه د وګړو د پرمختګ لامل کېږي. ............ ٨
امریکا........................................................ ١٨
اروپا ........................................................ ١٩
چین ......................................................... ٢٠
دمـــــه ....................................................... ٢٢
دویم څپرکی.................................................. ٢٥
کله باید مطالعه وکړو؟........................................ ٢٦
سهار وختي مطالعه............................................ ٢٦
هغه مشهورې څېرې چې سهار وختي به یې مطالعه کوله ............ ٢٨
د شپې لخوا مطالعه............................................ ٢٩
د دویم څپرکي پای ............................................ ٣١
دمـــــه ....................................................... ٣٢



Scanned with CamScanner

دریيم څپرکی ........................................ ۳۵
کوم کتابونه باید ولولو؟ .................................... ۳۶
ژوند لیکونه ........................................ ۳۹
ددریيم څپرکي پای ........................................ ٤٠
دمـــــه ........................................ ٤١
څلورم څپرکی ........................................ ٤٣
څه ډول باید مطالعه وکړو؟ .................................... ٤٤
(۱) لېوالتيا ........................................ ٤٤
(۲) موخه ........................................ ٤٧
(۳) مسلکي مطالعه ........................................ ٥١
دمـــــه ........................................ ٥٤
پنځم څپرکی ........................................ ٥٥
شپږم څپرکی ........................................ ٥٩
اخځليکونه ........................................ ۷۲

Scanned with CamScanner

# سریزه

**ولې مې دا کتاب ولیکه؟**

د ښوونځي په دوره کې به ځکه ځورېدم چې د ورځې به مې ساعتونه مطالعه کوله او د شپې به هم تر ناوخته ورته ناست وم، خو بیا به هم د ازموینو پایلې هېڅ ښې نه وې.

د کمزورې حافظې له امله مې پوهنتون ونشو لوستلای، نو ځکه خو مې ازاده مطالعه پیل کړه. له څه مودې وروسته مې مطالعه دومره ښه شوه چې په یوه کال کې مې ۳٦۰ ډېر پلورل شوي نړیوال کتابونه ولوستل، پوهنتونونو ته د سیمینارونو لپاره ور وبلل شوم، او په تلویزوني او راډیويي خپرونو کې پر مطالعه وغږېدم.

دا چې ما څنګه وکولای شول چې په ۳٦۰ ورځو کې ۳٦۰ غوره کتابونه ولولم، ومې غوښتل چې دا راز له تاسو سره د کتاب په بڼه شریک کړم.

نو ګرانه لوستونکیه!

اوس دې چې د ښې مطالعې د راز د پیدا کولو تکل کړی، هیله ده چې د کتاب د لوستلو پرمهال (نښه کوونکی قلم، پنسل، او د یادښت کتابچه) له ځانه سره ولرې.

درنښت

**حمیدالله همت**

۲۰۲۰/٦/۱۳

بغلان ولایت



Scanned with CamScanner

# لومړی څپرکی

که هر ماښام د تلوېزیون کتلو پر ځای ۱۵ دقیقې مطالعه وکړئ، په کال کې به مو ۱۵ کتابونه لوستي وي. که په همدې ډول مطالعې ته دوام ورکړئ، نو په ۷ کلونو کې به مو ۱۰۰ غوره کتابونه لوستي وي.

په دې توګه به تاسو د خپل نسل یو له تر ټولو غوره لوستو کسانو څخه وګڼل شئ. یادې موخې ته هره شپه تر ویده کېدو مخکې یوازې د ۱۵ دقیقو مطالعې پر مټ رسېدلای شئ.

**برایان ټریسي**



Scanned with CamScanner

# ولې باید مطالعه وکړو؟

## ۱. ځکه چې لوستل او مطالعه د وګړو د پرمختګ لامل کېږي.

**امام بخاري** (رح)

**هغه به له مطالعې او لیکلو سره دومره بوخت وو چې کله به یې خوراکي توکي او توښه خلاص شول، نو واښه به یې خوړل.**

امام صاحب به د شپې شاوخوا ۲۰ ځلې ویښېده او د علم په اړه به یې هره هغه ګټه لیکله چې ذهن ته به ورغله. نوموړي له علم سره دومره مینه درلوده چې له ۱۰۸۰ ښوونکو څخه یې زده کړې کړې وې او په زرګونو زده کوونکي یې درلودل. هِغه په زیاته کچه مطالعه او لیکل کول او د یادو هڅو پایله یې د «صحیح البخاري» په نوم د احادیثو کتاب دی. یاد کتاب یې په ۱٦ کلونو کې بشپړ کړ چې له قرانکریم وروسته تر ټولو صحیح او کامل کتاب بلل کېږي. امام بخاري ۳۰۰،۰۰۰ حدیثونه زده کړل چې ۲۰۰،۰۰۰ یې غیر صحیح او ۱۰۰،۰۰۰ یې صحیح احادیث وو.

**ابن خزیمیه وایي:** «تر اسمان لاندې ما له امام بخاري (رح) څخه پوه کس نه دی لیدلی.»

**برټرنډ راسل**

**نوموړي به تل د ځان وژنې په اړه فکر کاوه خو کله یې چې له مطالعې سره مینه پیدا شوه، بې ساری پرمختګ یې وکړ او تر ۱۰۷،۳۱۰،۰۰۰ څخه زیاتې کلمې یې ولیکلې.**



Scanned with CamScanner

راسل په ژوند کې دومره ستونزې درلودې چې ان یو ځل یې د ځان وژنې هڅه هم وکړه خو بریالی نه شو. څه موده وروسته یې له علم او پوهې سره مینه پیدا شوه او تل به یې لیک او لوست کاوه. هغه ۹۸ کاله عمر وکړ او څومره به یې چې عمر لوړېده، هغومره به له خپل ژونده خوشالېده. راسل دومره لیکنې وکړې چې که د نوموړي د ژوند پر ورځو ووېشل شي، هرې ورځې ته یې ۳۰۰۰ کلمې رسېږي. یعنې هغه کابو ۱۰۷،۳۱۰،۰۰۰ کلمې لیکلې دي.

**هېروتاډو اټوتاکي**

**که څه هم پښې او لاسونه یې نه درلودل، خو کتاب یې تر ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پورې وپلورل شو.**

اټوتاکي په داسې حال کې نړۍ ته سترګې رڼې کړې چې نه یې لاسونه درلودل او نه هم پښې. دا چې هغه یوه ډېره بریالۍ کورنۍ درلوده نو نوموړی یې د معلولینو ښوونځي ته نه، بلکې د سالمو ماشومانو ښوونځي ته بوتلو. اټوتاکي هم خپله ټوله هڅه کوله او په پای کې یې د No one's perfect (هېڅوک بشپړ ندي) په نوم یو کتاب ولیکه چې یاد کتاب له ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شو او په جاپان کې د وخت د غوره کتابونو په لړ کې راغی.

**اوکاوا**

**تر نورو به یې درې چنده زیاته مطالعه کوله، له همدې امله یې کتابونه تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شول.**



Scanned with CamScanner

کله چې د نوموړي د IQ ازموینې پایله را ووته، له خپل ورور ځخه یې ۵۰ سلنه کمې نمرې اخیستې وې. نو کورنۍ یې له هغه ځخه وغوښتل چې نشي کولای خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، ښه به دا وي چې سوداګرۍ او تجارت ته مخه کړي. خو اوکاوا دا خبره ونه منله او له خپلو سیالو همزولو او ورونو ځخه به یې درې چنده زیاته مطالعه کوله. همغه وو چې په پای کې پر یوه بریالي او نامتو لیکوال بدل شو او کتابونه یې تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه ځخه زیات وپلورل شول. د نوموړي تر ټولو نامتو کتاب د Think Big (لوی فکر) په نوم کتاب دی.

## ناپېلیون هېل

---

**نوموړي نه د خوب لپاره مناسب ځای درلود او نه هم د خوړلو لپاره مناسب خواړه، خو د «فکر وکړئ او شتمنی شئ» کتاب یې تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه ځخه زیات وپلورل شو.**

---

هېل په ماشومتوب کې په داسې یوه کور کې اوسېده چې یوازې یوه کوټه یې درلوده، هغه به تل په دې تمه وو چې یو ځوک خواړه ورته راوړي. نوموړی چې کله پر ښه او بد پوه شو، له علم او پوهې سره یې بې کچې مینه پیدا شوه. هغه پرېکړه وکړه څو د خلکو د ژوند د بریا پر رازونو ځان پوه کړي. همدې موخې ته د رسېدلو لپاره یې پوره ۲۵ کاله هڅې وکړې او ددې هڅو او خواریو پایله یې د «فکر وکړئ او شتمن شئ» کتاب ولیکلو. یاد کتاب په ۲۰۱۵ مېلادي کال کې تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه ځخه ډېر وپلورل شو او د نړۍ په ٦ هغه غوره کتابونو کې راغی چې د اقتصاد په اړه لیکل شوي دي.



Scanned with CamScanner

## اګاتاکرېستي

**نوموړې ښوونځي ته ولاړه نه، خو د نړۍ د هغه غوره لیکوالانو په ډله کې راغله چې کتابونه یې تر ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شول.**

کرېستي ښه حافظه نه درلوده او د درسونو په زده کولو کې بې خوند وه. هغه ښوونځي ته ولاړه نه. مور به یې ډېر زیار ورسره ایسته او نوموړې به هم تر خپلې وسې مطالعه کوله. تر دې چې د نړۍ د ترټولو غوره لیکوالانو په ډله کې راغله او کتابونه یې تر ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شول. که چېرې د هغې ټول کتابونه را ټول شي نو له ایفل څخه لوی څلی ترې جوړېدای شي. په ۲۰۰۳ کال کې یوازې په فرانسه کې د هغې کتابونه ۸،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه وپلورل شول. نوموړې د جنایي ناولونو یوه پیاوړې لیکواله وه چې له همدې امله یې د جرمونو ملکه یا Queen of crimes لقب خپل کړ.

## بنجامین فرانکلېن

**نوموړي به د غوښې او ترکارۍ پر پیسو کتابونه اخیستل او په پای کې یې د نوي عصر د سقراط لقب خپل کړ.**

دا چې فرانکلېن ډېرې مالي ستونزې درلودې نو له دوو کلونو څخه زیات ښوونځي ته نه ولاړ. هغه په یوه چاپخونه کې کار کاوه. نوموړي به د ورځې لخوا سخت کار کاوه او د شپې لخوا به یې د هغه شمعو رڼا ته مطالعه کوله چې له ډېرانونو څخه به یې راټولې کړې وې. فرانکلېن به تل



Scanned with CamScanner

مطالعه کوله خو ستونزه یې دا وه چې د مطالعې لپاره یې کتابونه نه درلودل، نو له خپلو ملگرو څخه به یې کتابونه په پور اخیستل او له لوستلو وروسته به یې بېرته ورته سپارل.

## نېلسن منډېلا

**نوموړی د خپل پلار په کالیو کې ښوونځي ته ولاړ، خو هېڅکله غربت ته تسلیم نه شو او له زده کړو یې مخ وانهړاوه، همغه وو چې مبارزې یې رنگ راوړ او د خپل هېواد ولسمشر شو.**

منډېلا په داسې یوه غریبه کورنۍ کې نړۍ ته سترگې پرانیستې چې تر ۱۸ کلنۍ یې بالښت نه پېژانده. هغه به چې کله ښوونځي ته تلو نو د اغوستلو لپاره یې مناسب کالي نه درلودل. پلار یې له خپلو زړو کالیو څخه د ښوونځي یونیفورم ورته جوړ کړ. که څه هم یاد یونیفورم د ده په بدن کې ډېر لوی وو خو ده به بیا هم اغوست. منډېلا تر اتلس کلنۍ پورې بالښت نه پېژاند او نه یې هم په کور کې بالښت درلود. هغه دې ته ورته گڼې نورې ستونزې هم درلودې. خو ددې ټولو ستونزو سره سره هغه بیا هم خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او په پای کې د خپل هېواد یو منلی او محبوب ولسمشر شو چې د «مخولو» یعنې بابا لقب یې ترلاسه کړ. نوموړي په خپل هېواد کې د تور پوستکو پر وړاندې کابو ټولې شته ستونزې له منځه یوړې او له سپین پوستو سره یې حقوق مساوي شول.

## بیل ګېټس

**په داسې حال کې چې د نړۍ دویم شتمن کس بلل کېږي، بیا هم په کال کې ۵۲ کتابونه لولي.**

بیل ګېټس له مطالعې سره دومره مینه درلوده چې په ۷ کلنۍ کې یې د
World book
په نوم مشهور کتاب چې ۱۴۰۰۰ مخه یې درلودل، ولوست. هغه به په هر حالت کې مطالعه کوله. بیل ګېټس به د پوهې د ترلاسه کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کولې، تر دې چې په پای کې د نړۍ تر ټولو شتمن کس وبلل شو. نوموړی که څه هم د نړۍ لومړی شتمن کس شو خو له مطالعې سره یې اړیکې پرې نه کړې او اوسمهال هم هره اونۍ یو کتاب مطالعه کوي، یعنې بیل ګېټس په یو کال کې ۵۲ کتابونه لولي. نوموړي څه موده مخکې د واکسین په اړه لیکل شوی ۴۰۰ مخه کتاب په ډېره کمه موده کې ولوست.

## البرټ انشټین

**که څه هم په ماشومتوب کې د لېوني خطاب ورته کېده خو وروسته بیا د شلمې پېړۍ تر ټولو لوی عالم وبلل شو.**

انشټین ته به د خپلې کورنۍ غړو د لېوني په سترګه کتل، ځکه چې هغه به د خپلو بوټونو مزي نشواى تړلاى، درسونه یې نشواى زده کولاى او ان په خبرو کولو کې یې هم ستونزه درلوده. هغه چې کله ځوان شو، له علم او پوهې سره یې مینه پیدا شوه، خپله مینه یې نوره هم پیاوړې کړه او همدا

له علم سره یې مینه وه چې بیا نامتو او عظیم شخصیت ترې جوړ شو.

نوموړی بالاخره د شلمې پېړۍ د تر ټولو لوی عالم په توګه وپېژندل شو. دا چې له ده سره به د ډېرې بوختیا له امله د وېښتانو د کمولو او د بوټونو د مزو د تړلو وخت نه وو نو ځینې خلکو به ورته Crazy hair ویل، ځکه چې وېښتان به یې ډېر بې نظمه او لوی وو.

**۲. خکه چې لوستل د صحت او روان د ښه والي لامل کېږي.**

*دلته مونږ تاسو ته هغه مشاهیر لنډه در پېژنو چې له ګڼ شمېر جدي او روغتیایي ستونزو سره سره یې زده کړو ته دوام ورکړ او په پای کې بریا ته ورسېدل.*

---

**که غواړې چې ښه روغتیا ولرې، نو ښه مطالعه وکړئ!**

**سقراط**

---

**هېلېن کېلر**

نوموړې په ښه توګه خبرې کول، اورېدل او لیدل نشوای کولای تر څو بریا ته یې ورسوي. هغې له علم او پوهې سره ډېره مینه درلوده، همغه وو چې د خپلې ښوونکې په مرسته یې زده کړو ته دوام ورکړ او پایله یې دا شوه چې د نړۍ د ۱۰ غوره مېرمنو په ډله کې وشمېرل شوه. هغې ډېرو هېوادونو ته سفرونه وکړل، په ګڼو پوهنتونونو کې یې ویناوې وکړې او ګڼ شمېر ستاینلیکونه یې ترلاسه کړل.



Scanned with CamScanner

## نیوټن

د نیوټن په اړه دا تمه نه وه چې هغه دې ژوندی پاتې شي، ځکه چې نوموړی یو کمزوری ماشوم وو. کله چې یو څه را لوی شو او ښوونځي ته ولاړ، څرګنده شوه چې پیاوړې حافظه نه لري. خو هغه له پوهې سره ډېره مینه درلوده او همدا له علم سره یې د خپلې مینې پالل وو چې له هغه څخه یې د نړۍ یو لوی او نامتو شخصیت جوړ کړ. د فزیک په برخه کې یې لویې لاسته راوړنې درلودې چې اوس هم د جاذبې قوې له موضوع سره د نیوټن نوم حتمن اخیستل کېږي.

## جېمز واټ

نوموړی په ماشومتوب کې ډېر ټنبل وو او په ښوونځي کې به د خپلو ټولګیوالو له لوري ډارول کېده. هغه یو غریب ماشوم وو او په یوه مغازه کې یې کار کاوه. هغه به سهار وختي پاڅېده، د دوکان په مخکې به ناست وو او مطالعه به یې کوله. د نوموړي د هڅو او خواریو پایله دا شوه چې هغه ته یې «د صنعتي انقلاب د اصلي څېرې» لقب ورکړ.

## وېکتور سېربریاکوف

دا چې نوموړي ډېره کمزورې حافظه درلوده نو د ښوونکو لخوا ورته د ښوونځي د پرېښودو سپارښتنه وشوه. خو هغه پر ځان باور درلود او ډېرې هڅې یې وکړې. د خپلو هڅو په پایله کې نوموړی د مینسا سوسایټي په راس کې پاتې شو او خپله IQ یې ۱۶۱ ته ورسوله. همغه وو چې د نړۍ پر یو مشهور او نامتو کس بدل شو.



Scanned with CamScanner

## وېکتور هوګو

هوګو په ماشومتوب کې دومره کمزوری او بې ځانه وو چې له مور پرته يې بل هېڅا هم دا تمه نه لرله چې ګنې هغه دې د ځو ورځو لپاره هم ژوندی پاتې شي. خو داسې ونه شول، د (بېوزلان) اثر په ليکلو سره هغه په نړۍ کې د يو محبوب شخص په توګه وپېژندل شو چې د جنازې په مراسمو کې يې له دوه مېليونو څخه زياتو کسانو ګډون کړی وو.

## بلز پاسکال

پاسکال په ماشومتوب کې خورا ضعيفه او کمزوری ماشوم و خو کله چې يو څه را لوی شو نو له رياضي سره يې مينه پيدا شوه او په ياده برخه کې يې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې. څه موده وروسته يې د حساب ماشين اختراع کړ چې يادې اختراع لوی شهرت ور په برخه کړ. هغه د ډېرو خواريو او زياتو مطالعو په پايله کې ناروغ شو او وروسته ومړ.

## جون ډومنيک

که څه هم نوموړی په اندامونو شل وو خو د خپلې چپې سترګې په ۲۰۰،۰۰۰ اشارو يې ۱۳۷ مخه کتاب وليکه او د نړۍ د مشهورو ليکوالانو په ډله کې راغی.

## خلدون سنجاب

هغه هم په اندامونو شل وو، خو نوموړي وکولی شول چې د خپلو شونډو په خوځولو سره خپل کتاب بشپړ کړي او خورا ډېر شهرت ترلاسه کړي.



Scanned with CamScanner

**ماکسیم ګورګي**

ګورګي په ماشومتوب کې ډېرې ستونزې درلودې، هغه یو ځل حتی د ځان وژنې هڅه هم وکړه، خو ګورګي دومره کمزوری و چې په خپله دغه هڅه کې هم بریالی نشو. همغه وو چې وروسته یې پر ځان د ګورګي (تریخ سړی) نوم کېښود. څه موده وروسته یې له مطالعې سره مینه پیدا شوه او په یاده برخه کې یې ډېرې هڅې وکړې، تر دې چې د ادبیاتو د اتل لقب یې خپل کړ.

### ۳. ځکه چې مطالعه ژوند ژغوري

یو کس وو چې په ډېرو کلمو پوهېده، هغه به یادې کلمې د سرو زرو د ډېر شمېر سکو په مقابل کې خلکو ته ور زده کولې. که څه هم دا ډېر لوړه بیه وه خو خلکو به بیا هم د یادو کلمو د زده کړې په پار دغه بیه پرې کوله، ځکه چې دغه نوو کلمو د هغوی پر ژوند ژور اغېز کړی وو.

دغه کس یوه ورځ پادشاه ته د سرو زرو ۳۰ سکو په بدل کې یوازې درې کلمې وښودې او هغه کلمې «زه پر هر څه پوهېږم.» وې. یوه ورځ چې نایي د پادشاه وېښتان جوړول، پادشاه دغه کلمې «زه پر هر څه پوهېږم»، په پرله پسې توګه له ځان سره تکرارولې، دغه شېبه ناڅاپه د نایي له لاسه یو لوی چاقو ولوېد، نایي وارخطا شو او پادشاه ته یې په زاریو وویل، زه هېڅ ګناه نه لرم، ستا ورور راته ویلي وو چې پادشاه باید ووژنې. نایي له دې وېرې چې ګواکې پادشاه رښتیا هم پر هر څه پوهېږي، چاقو یې له لاسه ولوېد او پادشاه له وژل کېدو وژغورل شو.

همغه وو چې پادشاه پوه شو چې دېرشو سکو په بدل کې زده کړو کلمو د هغه ژوند وژغوره.



Scanned with CamScanner

## ۴. ځکه چې لوستل د هېوادونو د پرمختګ لامل کېږي.

### امریکا

کله چې په ۱۸۹۵ مېلادي کال کې امریکا له اقتصادي ځوړ سره مخ شوه، نو د مرکزي امریکا یوه سوداګر «اوریسن سوېټ مارډن» په دې پېښه کې خپل هوټل چې ټوله شتمني یې همدا وه، له لاسه ورکړ. نوموړي د یوه کتاب د لیکلو پرېکړه وکړه، همداسې یې وکړل. همغه وو چې د یو کال هڅو وروسته یې د Pushing to the front (مخ پر وړاندې تګ) په نوم یو کتاب چې ۸۰۰ مخه وو، ولیکه. د نوموړي دغه کتاب په یوه اور لګېدنه کې له منځه لاړ خو هغه یو ځل بیا هڅې او خوارۍ وکړې څو چې کتاب یې یو ځل بیا بشپړ کړ. که څه هم په لومړیو کې د یاد کتاب چاپولو ته چا زړه نه ښه کاوه خو له ډېرو هڅو وروسته کتاب چاپ شو او د امریکا پر نفوذ لرونکو او نامتو کسانو لکه ناپیلیون هېل، توماس اډیسن او هنري فورډ باندې یې خورا ډېر اغېز وکړ.

د امریکا ډېر شمېر پانګوال او سیاستوال پر دې باور دي چې همدا کتاب Pushing to the front ددې لامل شو تر څو امریکا شلمې پېړۍ ته د ننه شي. نو دا چې نن ورځ امریکا د نړۍ لوی اقتصادي ځواک بلل کېږي، یو بنسټیز لامل یې همدا کتاب او هغه وګړي دي چې یاد کتاب ورباندې اغېز کړی وو.



Scanned with CamScanner

## اروپا

### رنسانس

رنسانس لاتیني کلمه ده چې د «بیا ځلې ژوند» مانا لري.

رنسانس هغه فرهنگي خوځښت دی چې پوهې ،هنر او پرمختگ ته ځانګړې پاملرنه پکې وشوه . اروپایانو په دې دور کې له لاتیني او نورو ژبو څخه ژباړې وکړې، د اشراقو له علومو څخه یې گټه واخیسته او د نړۍ په اړه یې د ډېرو معلوماتو د پیداکولو هڅه وکړه. یاده دوره د پوهې او پرمختگ تر ټولو غوره دوره وه. دا چې اروپا نوې له تیاره پېړۍ (یعنې له هغه وخت څخه چې علم، هنر او پرمختگ پکې محدود ساتل شوي وو) څخه راوتې وه او د پرمختگ پر لور چټکه روانه وه نو کتابونو ته اړتیا او لېوالتیا ورځ تر بلې ډېرېده تر څو عام وگړي پوهې ته لاسرسی ولري.

خو ستونزه دا وه چې کتابونه ډېر کم وو، دا ځکه چې د کتاب لیکل ډېر سخت وو او یوه پیاوړي لیکوال کولای شول چې د هر څومره زیات او سخت کار په پایله کې په ټول کال کې یوازې دوه کتابونه ولیکي. د کتابونه د کمښت له امله یوازې د شتمنو خلکو زامنو کولای شول چې کتابونه وپېري او په ښوونځیو کې زده کړې تر ډېره په شفاهي ډول ترسره کړې. دغه وخت یوهانس گوټنبرگ د شلو کالو پرله پسې هڅو په پایله کې چاپ ماشین اختراع کړ. د یاد ماشین په اختراع کېدو سره په ډېره لږه موده کې کابو ټولو اروپایانو وکولای شول چې پوهې ته لاس رسی ومومي، دا ځکه چې په راتلونکو ۴۰ کلونو کې تر ۱۰،۰۰۰،۰۰۰ څخه ډېر کتابونه چاپ شول.



Scanned with CamScanner

دا چې نن سبا اروپا د پرمختګ بېلګه بلل کېږي، یو بنسټیز لامل یې همغه د رنسانس یا بیا ځلې ژوند دوره وه، کومه چې پوهې، هنر او پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه پکې وشوه.

## چین

چین چې نن ورځ د نړۍ دویم اقتصادي ځواک بلل کېږي، یو بنسټیز لامل یې له پوهې سره د چینایي وګړو مینه او لېوالتیا ده. په چین کې د «هنان» په نوم یوه سیمه ده چې په ډېرو لوړو غرونو کې موقعیت لري. دا چې هنان سیمه په ډېرو لوړو غرونو کې واقع شوې ده نو ځکه دولت هم پوره پاملرنه نه ورته کوي. د هنان خلک خپل اولادونه له شته ستونزو سره سره ښوونځیو ته لېږي. زده کوونکي هره ورځ شاوخوا ۴۸ کیلو متره واټن پلی تګ کوي تر څو ښوونځي ته ورسېږي. د دومره ستونزو سره سره بیا هم د هنان سیمې ماشومان زده کړو او د پوهې حاصلولو ته پوره لېوالتیا لري، ځکه خو هغوی وایي: «هېڅ لوړ غر نه شي کولای چې موږ له ښوونځي څخه را وګرځوي.»

د چین د خلکو د یادې ارادې څخه څرګندېږي چې که چېرې هېڅ لوړ غر دوی له ښوونځي څخه نه شي را ګرځولای، نو په همدې توګه هېڅ ډول ستونزې نه شي کولای چې د دوی د پرمختګ او ودې خنډ وګرځي.

له دې څخه جوتېږي چې د امریکا، چین، اروپا او د نړۍ د نورو هېوادونو د پرمختګ او ودې یو عمده او بنسټیز لامل پوهه او مطالعه ده.



Scanned with CamScanner

# د لومړي څپرکي پای

۱. ولې باید مطالعه وکړو؟

۲. د امریکا، اروپا او چین د پرمختګ لاملونه څه وو؟

۳. لوستل څه ډول د وګړو د پرمختګ لامل کېدای شي؟

۴. ایا لوستل د روغتیا د ښه والي لامل کېدای شي؟ څنګه؟

۵. راسل څه ډول دومره ډېرې بریاوې ترلاسه کړې؟

۶. یو بې پښو او بې لاسونو کس «اټوټاکي» څه ډول په داسې یو بریالي کس بدل شو؟

۷. جېمز واټ، نیوټن، اګاتا کرېستي او البرټ انشټین څه ډول وکولای شول چې د نړۍ پر لویو شخصیتونو بدل شي، حال دا چې هر یوه یې جدي ستونزې درلودې؟



Scanned with CamScanner

# دمه

۱. امام احمد (رح) به د علم د زده کړې لپاره ځان پر ځمکه را کښېوده.

۲. امام ابو حنیفه (رح) د علم د زده کړې لپاره د کور سامان او وسایل وپلورل.

۳. له امام بخاري (رح) سره به چې د علم د زده کړې پر مهال توښه او خرڅ خلاص شول، نو واښه به یې خوړل.

۴. سفیان ثوري د علم د زده کړې له امله ۳ ورځې پرله پسې وږی پاتې شو.

۵. ابن ابي حاتم د علم د زده کړې پر مهال ۷ میاشتې وچه ډوډۍ وخوړله.

۶. عبید بن یُعیش ۳۰ کاله په خپل لاس ډوډۍ ونه خوړله، ځکه چې لیکل به یې کول او خور به یې ډوډۍ په خوله کې ورکوله.

۷. حافظ بن ابراهیم د احادیثو د لیکلو په خاطر پوره ۳۰ کاله هره ورځ یوازې یوه وچه ډوډۍ خوړله.

۸. ابو نصر فارابي به د شپې لخوا د سپوږمۍ رڼا ته مطالعه کوله.

۹. ابن تیمیه د ډېرې مطالعې له امله سخت ناروغ شو.

۱۰. بلز پاسکال د ډېرې مطالعې له امله ومړ.

۱۱. د ابن المقفع ګوتې د ډېرو لیکلو له امله را قات شوې.



Scanned with CamScanner

۱۲. موزارټ په یخه کوټه کې د ډېرو لیکلو له امله سخت ناروغ شو او وروسته ومړ.

۱۳. بنجامین فرانکلین به د شپې لخوا هغه نیمه سوو شمعو ته مطالعه کوله چې له ډېرانونو څخه به یې راټولې کړې وې.

۱۴. ژان ژاک روسو به وچه ډوډۍ خوړله او مطالعه به یې کوله.

۱۵. داستایوسکی به په پټه مطالعه کوله.

۱۶. فریډریک ډوګلاس په پټیو کې له را څېرېدلو لوحو څخه توري زده کړل.

۱۷. هېټلر به زاړه کالي اغوستل خو نوي کتابونه به یې لوستل.

۱۸. انتوني رابینز په ۷ کلونو کې ۷۰۰ کتابونه ولوستل.

۱۹. فیډل کاسټرو چې کله په زندان کې وو، نو په هرو ۲۴ ساعتونو کې به یې ۱۵ ساعته مطالعه کوله.

۲۰. بیل ګېټس په ۷ کلنۍ کې د World book په نوم کتاب ولوست چې ۱۴۰۰۰ مخه یې درلودل.

۲۱. ډاکټر سنډي پوره ۶ کاله هره ورځ ۶ ساعته مطالعه کوله.

۲۲. مېچل په ۸ کلونو کې ۵۰۰۰ کتابونه ولوستل.

۲۳. توماس لېبس په ۵ ورځو کې کابو ۳۵ کتابونه ولوستل.

۲۴. جې شي تې د کال په ۳۶۰ ورځو کې هره ورځ یو کتاب لوست.

۲۵. سټیون هورډ برګ د نړۍ تر ټولو هغه چټکو لوستونکو څخه دی چې په یوه دقیقه کې کولای شي ۲۵۰۰۰ کلمې ولولي.



Scanned with CamScanner

۲۶. برټرنډ راسل شاوخوا ۱۰۷،۳۱۰،۰۰۰ کلمې لیکلې دي.

۲۷. په نړۍ کې تر ټولو ډېرې ورځپاڼې هندوان لولي.

۲۸. هر هندي وګړی په کال کې ۳۱۵۱۰ دقیقې مطالعه کوي.

۲۹. کوپرنیک خپل کتاب په ۱۳۸۲۴۰ ساعتونو کې ولیکه.

۳۰. امام بخاري ^(رح)^ صحیح البخاري کتاب په ۱۶ کلونو کې ولیکه.

۳۱. په برازیل کې چې هر زنداني کس یو کتاب ولولي نو د زندان له پاتې ورځو څخه یې څلو ورځې کمېږي.

۳۲. په هند کې چې هر څوک په سلمانۍ کې کتاب ولولي، تخفیف ورکول کېږي.

۳۳. په عراق کې کتابتونونه نه تړل کېږي، ځکه هغوی پر دې باور دي، هغه څوک چې کتاب لولي، غلا نه کوي او هغه څوک چې غلا کوي، هغوی کتاب نه لولي.



Scanned with CamScanner

# دويم ځپرکی

که چېرې په اوني کې يو غوره کتاب ولولئ، نو په کال کې به مو ۵۲ غوره کتابونه لوستي وي، په دې مانا چې د نړۍ د دويم شتمن کس يعنې بېل ګېټس هومره مطالعه به مو کړې وي. دغه چاره په ورځ کې د يو ساعت مطالعې په مرسته هم ترسره کېدای شي.



Scanned with CamScanner

# کله باید مطالعه وکړو؟

د مطالعې اړوند تر سره شویو څېړنو ته په کتو سره، د مطالعې لپاره غوره وخت سهار له خوبه وروسته او د شپې له خوب څخه مخکې وخت دی.

## سهار وختي مطالعه

۱ـ کله چې په سټنفورډ پوهنتون کې د خوب په اړه څېړنه کېده، نو د ګارډنر په نوم یو کس باندې یاده تجربه ترسره شوه. نوموړي پوره ۱۱ ورځې خوب ته پرېنښودل شو، بالاخره د یادې څېړنې او تجربې څخه دوه په زړه پورې پایلې ترلاسه شوې.

**لومړی:** کله چې موږ ویده یو نو په دې وخت کې مو په مغز کې Brain cells (مغزي حجرې) تولیدېږي، یادې حجرې د مطالعې او په ځانګړې توګه د ترسره شوې مطالعې د اخذ لپاره ډېرې غوره دي. نو د سهار وخت هغه وخت دی چې زموږ مغزي حجرې نوې تولید شوې وي او په ښه توګه اخذ کولای شي. له همدې امله به د نړۍ ډېرو مشهور کسانو هم سهار وختي مطالعه کوله چې د هغوی غوره بېلګې اګاتا کرېسټي، همینګوي، اوباما، جېمز واټ، ډیبي ماکومبر او داسې نور دي.

**دویم:** دویمه پایله چې له دغې څېړنې لاسته راغله، دا وه چې د خوب پر وخت زموږ مغزي فشار ( Tension ) له منځه ځي او د همدې فشار د نشتوالي وخت د مطالعې لپاره تر ټولو غوره وخت دی. د نړۍ ډېرو نامتو وګړو د یادې تجربې او څېړنې پایله مثبته او ګټوره وبلله.



Scanned with CamScanner

۱. د ایت شریف ژباړه ده چې (او خوب مو ستاسو لپاره د ارام او راحت سبب ګرځولی دی). له پورته ایت څخه څرګندیږي چې زمونږ ټولې ستړیاوې د خوب پر مټ له منځه ځي او له خوب څخه وروسته د ارام او راحت احساس کوو چې همدا راحت د مطالعې لپاره غوره وخت دی.

۲. علماء په دې باور دي چې اوزون ګاز د سهار پر مهال تر بل هر وخته ډېر وي. یاد ګاز د عصبي عضلو د خوښی لامل کیږي، له همدې امله سهار وخت د مطالعې لپاره ښه وخت کېدای شي.

۳. حضرت محمد ﷺ هم له الله ﷻ څخه د خپل امت لپاره د ښه سهار غوښتنه کړې نو غوره ده چې خپل سهار په لوستلو پیل کړو.

۴. د سهار وختي مطالعې یوه بله ګټه دا ده چې په دغه وخت کې د هاضمې سېستم فعالیت نه کوي. ځکه چې یاد سېستم د بدن تر ټوله ډېره انرژي مصرفوي، نو دا چې دغه وخت د شو پرله پسې ساعتونو لپاره خوراک نه وي شوی، د هاضمې سېستم هم فعالیت نه کوي او یاد وخت د مطالعې لپاره غوره وخت بلل کیږي.

۵. د سهار وختي مطالعې یوه ښېګڼه د بوختو کسانو لپاره دا ده چې که چېرې بوخت کسان د ورځې لخوا وخت نه لري، کولای شي له دې وروسته د نورو ورځو په پرتله خپلې ورځې وختي پیل کړي او دغه وخت چې له خوبه وختي پاځېدلي، مطالعې ته وقف کړي. د یادو کړنو د ترسره کوونکو غوره بېلګې جېمز واټ او بېل ګېټس دي.

## هغه مشهورې څېرې چې سهار وختي به یې مطالعه کوله

۱. **اګاتاکرېستي:** نومورې لیکوالې په جنایي ناول لیکلو کې د جرمونو د ملکې لقب ګټلی وو او کتابونه یې د نړۍ په ۱۰۳ ژبو ژباړل شوي او تر ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوي دي. هغې به تل سهار وختي مطالعه او لیکل کول.

۲. **همینګوې:** هغه د بوډا او سیند په نوم د کتاب لیکوال دی چې یاد کتاب ۲۷۰۰۰ کلمې لري، او تر چاپ وړاندې ۲۰۰ ځلې اصلاح شوی دی. یاد کتاب د نړۍ تر ټولو لویه جایزه یعنې Noble Prize هم خپله کړې ده. ددې کتاب لیکوال همینګوې به هم تل سهار وختي مطالعه کوله او لامل یې دا په ګوته کړی وو چې سهار وختي هوا ښه وي او هېڅ ډول مزاحمت او خنډ شتون نه لري.

۳. **اوباما:** نوموړی چې اوس مهال یې ټوله نړۍ د یو محبوب کس په توګه پېژني، په ماشومتوب کې به یې مور ډېر وخته پاځاوه او په پخلنځي کې به یې د مطالعې په موخه اېښې مېز ته د کېناستلو لپاره اړ ایسته. که څه هم یاده چاره نه یوازې اوباما ته، بلکې د هغه مورته هم ستونزمنه وه خو دوی به تل دغه کړنه ترسره کوله، د یادو ستونزو او هڅو پایله دا شوه چې اوباما خپل ځان نړۍ ته ور وپېژاند. د هغه د بریاوو یو عمده لامل سهار وختي مطالعه کول وو.

۴. **جېمز واټ:** نوموړی په ماشومتوب کې خورا کمزوری ماشوم وو. دا چې هغه په یوه غریبه کورنۍ کې زېږېدلی وو، نو د کور د مالي ستونزو د حل په موخه یې کار هم کاوه. نوموړي په یوه دوکان کې کار کاوه او سهار وختي به یې له دوکان پرانیستلو مخکې څو ساعته پرله پسې مطالعه



Scanned with CamScanner

کوله. د همدې خواړيو او هڅو پايله وه چې جېمز واټ وروسته د صنعتي انقلاب د پلار لقب خپل کړ. د نوموړي د بريا يو لوی راز همدا سهار وختي مطالعه کول په ګوته شوي دي.

**۵. ډيبي ماکومبر:** نوموړې يوه غريبه مېرمنه وه، خو کله به يې چې سهار وختي خپل ماشومان ښوونځي ته ولېږل، له هغې وروسته به يې په همدې وخت کې مطالعه او ليکل کول. همغه وو چې د يادې مېرمنې لخوا ليکل شوي کتابونه کابو ۶۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه وپلورل شول.

## د شپې لخوا مطالعه

۱. دا چې يوويشتمه پېړۍ د مطبوعاتو او مالوماتو پېړۍ ده او مالومات پکې تر بلې هرې مخکينۍ پېړۍ څو چنده زيات لاسته راځي، په همغه اندازه ورسره وخت هم کمېږي، نو ښايي ډېر کسان له همدې امله مطالعې ته زړه نه ښه کوي چې وخت کم او کتابونه ډېر دي. خو دا خبره له دې امله منطقي نه بلل کېږي چې ان د نړۍ تر ټولو شتمن کس «بېل ګېټس» اوس هم هره ورځ يو ساعت مطالعه کوي. نوموړی په اونۍ کې يو کتاب لولي او په يو کال کې شاوخوا ۵۲ کتابونه مطالعه کوي. نو د وخت د کموالي پلمه معقوله او پر ځای نه ده. ددې پلمو د جوړولو پر ځای کولای شو له خپل هغه وخت څخه چې په رېښتينې توګه مو په واک کې دی، ګټه واخلو. خو هغه کوم وخت دی؟ د شپې له ويده کېدو مخکې وخت هغه وخت دی چې موږ کولای شو کابو يو ساعت يې مطالعې ته ځانګړی کړو.

۲. بل دا چې د شپې له خوب څخه مخکې چې کومه مطالعه کېږي، نو



Scanned with CamScanner

سهار يې پایله خورا ډېره ګټوره وي. ډېرى هغه کسان چې پر بریالیتوب بې نړۍ وياړي، د هغوى د بریا لوى راز او لامل همدا د شپې لخوا مطالعه کول وو، چې د يادو کسانو غوره بېلګې ابو نصر فارابي، بنجامين فرانکلين او داسې نور دي.

۳. له عبدالله ابن مسعود (رض) څخه روايت دى چې حضرت محمد ﷺ به مورږ د شپې تر ډېره کېناستو څخه منع کولو، پرته له هغه کسانو چې مطالعه به يې کوله.

# د دویم څپرکي پای

۱. کله باید مطالعه وکړو؟

۲. سهار وختي مطالعه څه ګټې لري؟

۳. کومو نامتو وګړو به سهار وختي مطالعه کوله؟

۴. د شپې لخوا مطالعه کول څه ګټې لري؟

۵. کومو مشهورو څېرو به د شپې لخوا مطالعه کوله؟

۶. د سټنفورډ پوهنتون هغه څېړنه چې د خوب په اړه یې ترسره کړې وه، پایله یې څه وه؟

۷. تاسو څه وخت مطالعه کوئ؟

الف: سهار وختي ب: د شپې لخوا

# دمه

۱. **فکر وکړئ او شتمن شئ:** دا د امریکایي لیکوال ناپیلیون هېل هغه اثر دی چې په ۲۵ کلونو کې ولیکل شو او په ۲۰۱۵ کال کې تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شو. یاد کتاب د نړۍ د ٦ هغه غوره کتابونو په ډله کې راغی چې د اقتصاد په اړه لیکل شوي دي.

۲. **مثبت فکر:** یاد کتاب د ډاکټر نورمن ونسنټ پیل اثر دی چې په نړۍ کې په ۴۴ ژبو ژباړل شوی او له ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی. د یاد کتاب په اړه جېمز کارټر وايي: «دغه کتاب به له ۱۰۰۰ کلونو وروسته هم لوستونکي ولري.»

۳. **د اغېزناکو خلکو ۷ عادتونه:** دغه کتاب د سټېفن کووي اثر دی چې د نړۍ په ګڼو ژبو ژباړل شوی او تر ۲۵،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی.

۴. **د بابل خان:** دغه کتاب جورج اېس کلاسون لیکلی دی چې تر ۲،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی او شاوخوا ۴،۰۰۰،۰۰۰ کسانو ته یې د لوستلو سپارښتنه شوې ده.

۵. **ته ګټونکی یې:** دغه کتاب د هندي لیکوال شیو کهرا مشهور اثر دی چې تر ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی.

٦. **هغه راهب چې خپل فېراري موټر یې خرڅ کړ:** دغه کتاب د کاناډایي لیکوال رابین شرما تر ټولو مشهور اثر دی چې د نړۍ په ۵۰



Scanned with CamScanner

# دمه

۱. **فکر وکړئ او شتمن شئ:** دا د امریکايي لیکوال ناپېلیون هېل هغه اثر دی چې په ۲۵ کلونو کې ولیکل شو او په ۲۰۱۵ کال کې تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات وپلورل شو. یاد کتاب د نړۍ د ٦ هغه غوره کتابونو په ډله کې راغی چې د اقتصاد په اړه لیکل شوي دي.

۲. **مثبت فکر:** یاد کتاب د ډاکټر نورمن ونسنټ پېل اثر دی چې په نړۍ کې په ۴۴ ژبو ژباړل شوی او له ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی. د یاد کتاب په اړه جېمز کارټر وايي: «دغه کتاب به له ۱۰۰۰ کلونو وروسته هم لوستونکي ولري.»

۳. **د اغېزناکو خلکو ۷ عادتونه:** دغه کتاب د ستېفن کووي اثر دی چې د نړۍ په ګڼو ژبو ژباړل شوی او تر ۲۵،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی.

۴. **د بابل خان:** دغه کتاب جورج اېس کلاسون لیکلی دی چې تر ۲،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی او شاوخوا ۴،۰۰۰،۰۰۰ کسانو ته يې د لوستلو سپارښتنه شوې ده.

۵. **ته ګټونکی يې:** دغه کتاب د هندي لیکوال شیو کهرا مشهور اثر دی چې تر ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی.

٦. **هغه راهب چې خپل فېراري موټر يې خرڅ کړ:** دغه کتاب د کاناډايي لیکوال رابین شرما تر ټولو مشهور اثر دی چې د نړۍ په ۵۰



Scanned with CamScanner

هېوادونو کې په ۷۰ ژبو لوستل کېږي. یاد کتاب تر ۵،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه زیات پلورل شوی دی.

۷. **لا تحزن / مه خفه کېږه:** یاد کتاب د عربي لیکوال عایض القرني تر ټول مشهور اثر دی چې کابو ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوی دی.

۸. **هېڅوک کامل نه دي:** دغه کتاب د جاپاني لیکوال اتوټاکي اثر دی چې له ۳،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه څخه ډېر پلورل شوی دی.

۹. **کیمیاګر:** دغه کتاب د پاولو کوېلو تر ټولو مشهور اثر دی چې له چاپېدو سره سم یې په نړۍ کې غوغا جوړه کړه. د یاد لیکوال کتابونه ۲۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوي دي.

۱۰. **لوی فکر:** یاد کتاب د اوکاوا اثر دی چې تر نورو کتابونو یې ډېر مشهور دی. د یاد لیکوال کتابونه شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوي دي.

۱۱. **د لوی فکر جادو:** دغه کتاب د ډیوېډ شوارتز اثر دی چې کابو ۷،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوی دی.

۱۲. **د سوفي نړۍ:** د جوسټین ګارډر اثر دی چې شاوخوا ۴۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوی دی.

۱۳. **سینوهه:** سینوهه

۱۴. **قتل په اورګاډي کې:** اګاتاکرېستي

۱۵. **مه نا امېده کېږئ:** سلوي العضیدان

۱۶. **له ناکامۍ یې زده کړه:** سلوي العضیدان



Scanned with CamScanner

۱۷. **د مينې څلوېښت اصول:** ايلف شافاک

۱۸. **موخې:** برايان ټرېسي

۱۹. **شهزاده او سوالګر:** وېکتور هوګو

۲۰. **سل کاله يوازېتوب:** ګابرېل ګارسيا مارکز

۲۱. **د نړۍ سل مشهورې خبرې:** مصطفی صفا

Scanned with CamScanner

# دریېم څپرکی

که تاسو په ورځ کې یو کتاب ولولئ، نو په کال کې به مو ۳۶۰ کتابونه لوستي وي. که چېرې تاسو سهار له خوبه وروسته او د شپې له خوبه مخکې یو یو ساعت یعنې د ورځې دوه ساعته مطالعه وکړئ، حتمي ده چې خپلو موخو ته به رسېږئ. په دې برخه کې غوره بېلګه جي شي تي کېدای شي چې په کال کې ۳۶۰ کتابونه لولي.

# کوم کتابونه باید ولولو؟

د مطالعې اړوند د ګڼ شمېر څېړنو پایلې ښايي چې د مطالعې د پیل لپاره تر ټولو غوره کتابونه ناولونه او ژوند لیکونه دي.

**ناولونه**

**لومړی:** د مطالعې د پیل لپاره ناولونه ځکه غوره ګڼل شوي دي چې د خلکو تر منځ ناولونه او د هغوی لیکوالان ډېر محبوبیت لري. لوستونکي نه یوازې دا چې له ناولونو ډېر څه زده کوي، بلکې ډېر خوند هم ترې اخلي. د غوره ناول لیکونکو بېلګې په لاندې ډول دي:

1. **اګاتاکرېستي:** نوموړې هغه ناول لیکونکې ده چې کتابونه یې په نړۍ کې ۱۰۳ژبو ته ژباړل شوي او کابو تر بل هر لیکوال څخه ډېر یعنې ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پورې پلورل شوي دي. د کرستي کتابونه چې د اېفل ځلي څخه لوی ځلی ترې جوړېدای شي، په ۲۰۰۳ کال کې یوازې په فرانسه کې ۸،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه وپلورل شول. لوستونکي یې نه یوازې د هغې له کتابونو سره، بلکې خپله له هغې سره هم مینه لري، نو ځکه خو یې د هغې د جنایي ناولونو لپاره نوموړې ته د جرمونو د ملکې لقب ورکړ. تر ټولو مشهور کتاب یې (قتل په اورګاډي کې) دې.

2. **پاولو کوېلو:** هغه برازیلی جادوګر قلم لرونکی ناول لیکونکی دی چې کتابونه یې شاوخوا ۲۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوي دي. تر ټولو مشهور ناول یې «کېمیاګر» دی. خلک د کوېلو له ناولونو سره دومره مینه



Scanned with CamScanner

لري چې کله يې د نوي ناول له چاپېدو خبر شي نو د لېونيانو په څېر د کتاب پلورنځيو پر لور منډې وهي.

۳. **جوستېين ګارډر:** نوموړی د (سوفي نړۍ) په نوم د هغه ناول ليکوال دی چې کابو ۴۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه پلورل شوی دی. ياد کتاب د نړۍ ګڼو ژبو ته ژباړل شوی دی او خلک يې له لوستلو ډېر خوند اخلي او همدارنګه ډېر څه ترې زده کوي.

۴. **سينوهه:** هغه ليکوال دی چې اثر يې «سينوهه» زرګونه کاله وروسته هم خورا ډېر لوستونکي خپل کړل. د سينوهه کتاب په اړه ويل کېږي چې که څوک دا کتاب نه وي لوستی، نو بيا دې په خپل ځان د لوستونکي د نوم د اېښودلو ادعا نه کوي. که څه هم اوس يعنې يووشتمه پېړۍ چې د مالوماتو پېړۍ بلل کېږي او ډېر ښه کتابونه پکې لېکل شوي، خو بيا هم سينوهه کتاب د پوهنغونډ په نوم بلل شوی دی.

۵. **رابين شرما:** د دغه کاناډايي ليکوال مشهور اثر د «هغه راهب چې خپل فېراري موټر يې خرڅ کړ» کتاب دی چې کابو ۵،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه وپلورل شو. ياد کتاب په نړۍ کې له ۷۰ څخه زياتو ژبو ته وژباړل شو او په ۵۰ هېوادونو کې لوستونکي لري.

**دويم:** د ناولونو يوه بله ګټه دا ده چې په يوه کتاب کې يې هم ډېر خوند پروت وي، او هم پکې ادب، فلسفه، ارواپوهنه، دينپوهنه، کلتور او ټولنپوهنه ځای پر ځای شوي وي. ښې بېلګې يې لاندې ناولونه کېدای شي:

سينوهه، د سوفي نړۍ، هغه راهب چې خپل فېراري موټر يې خرڅ کړ، او داسې نور...



Scanned with CamScanner

**درېیم:** د ناول لوستلو بله ګټه دا ده چې انسان له فطري اړخه له کیسو سره مینه لري، نو دا چې ناول هم د کیسې یو ډول دی، همغه ده چې په پوره مینه او لېوالتیا سره یې تر پایه لولي.

**څلورم:** ناولونه تر ډېره سمبولیک لیکل شوي وي یعنې هر لوستونکی کولای شي د خپل درک هومره زده کړه ځنې وکړي.

Scanned with CamScanner

# ژوند لیکونه

د ژوند لیکونو (Biographies) لوستل د انسان په ژوند خورا ډېر اغېز کوي. هغه کسان چې د ژوند لیکونو لوستلو یې پر ژوند ژور اغېز کړی دی، په لاندې ډول دي:

۱. **براهام لېنکلن:** نوموړی یو عادي ماشوم وو چې بزګري به یې کوله، خو له دې سربېره یې په هر حالت کې د مطالعې کولو هڅه هم کوله. هغه چې کله د جورج واشنګټن ژوندلیک ولوست، دومره اغېز یې ورباندې وکړ چې په پایله کې د خپل هېواد تر ټولو محبوب ولسمشر شو.

۲. **شکسپیر:** هغه هم یو معمولي انسان وو، خو کله یې چې د پلوتارک ژوند لیک ولوست، د نوموړي په ژوند یې دومره اغېز وکړ چې له یوه عادي انسان څخه یې په یو لوی او نامتو شخص بدل کړ.

۳. **ناپېلیون هېل:** نوموړي په داسې حال کې نړۍ ته سترګې پرانیستې چې والدینو یې په ډېر غربت کې ژوند کاوه او یوازې یوه کوټه یې درلوده، هغه به تل په دې تمه وو چې یو څوک ډوډۍ ورته راوړي تر څو خپله ګېډه پرې مړه کړي. خو کله یې چې د ګڼو نامتو کسانو ژوند لیکونه ولوستل او د هغوی ژوند یې له نږدې وڅېړه، دومره اغېز یې پرې وکړ چې په پایله کې یې د «فکر وکړئ او شتمن شئ» په نوم کتاب ولیکه چې یاد کتاب تر ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ ټوکه زیات وپلورل شو.



Scanned with CamScanner

# ددرېیم څپرکي پای

۱. کوم کتابونه باید ولولو؟

۲. ولې باید ناولونه ولوستل شي؟

۳. د ژوند لیکونو لوستل څه ګټې لري؟

۴. د ۱۰ مشهورو ناولونو نومونه ولیکئ؟

۵. د براهام لینکلن د شهرت راز څه وو؟

۶. شکسپیر څه ډول وکولای شول چې پر یو لوی او نامتو شخصیت بدل شي؟



Scanned with CamScanner

## دمه

۱. د نړۍ تر ټولو لوی او مشهور پوهنتون (ایم-وي-لومونوسوف) دی چې په مسکو ښار کې واقع دی. یاد پوهنتون ۳۲ پوړه دی چې ۴۰۰۰۰ درسي خونې او تالارونه لري.

۲. د نړۍ تر ټولو لوی کتابتون د امریکا کانګرس دی چې کابو ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰ مختلف ډوله کتابونه پکې دي.

۳. د نړۍ تر ټولو لوی موزیم (بریټېش) موزیم دی.

۴. د نړۍ تر ټولو ډېر ښوونځي په شیکاګو کې دي.

۵. په نړۍ کې تر ټولو لوړ فیس په امریکا کی په یوه ښوونځي کې اخیستل کېږي. په دې ښوونځي کې هر زده کوونکی باید د کال ۴۰۰۰۰ ډالره فیس ورکړي. یاد ښوونځی له ۶۰۰ څخه ډېر زده کوونکي لري.

۶. په مکسیکو ښار کې ګرځنده کتابتونونه هم شته. په دې هېواد کې یاد کتابتونونه چې ۵۰۰۰ ټوکه کتابونه لري او د مطالعې لپاره مېزونه او څوکۍ پکې ایښي وي، د هر کور مخې ته ورځي تر څو خلک مطالعه وکړي.

۷. لومړنی کتابتون له مېلاد څخه ۳۸۰۰ کاله مخکې په پخواني مصر کې وو.

۸. تر ټولو پخوانی د کتابونو نندارتون د المان په فرانکفورټ ښار کې دی. د یاد نندارتون بنسټ ۵۰۰ کاله وړاندې ایښودل شوی دی چې هر کال د



Scanned with CamScanner

اکتوبر په میاشت کې ۷۰۰۰ خپرندویې ټولنې ۴۰۰۰۰ ټوکه کتابونه پکې نندارې ته وړاندې کوي.

۹. د افلاطون اکاډمي کابو ۸۰۰ کاله فعالیت وکړ.

۱۰. د چاپ ماشین له اختراع کېدو مخکې یوه پیاوړي لیکوال کولای شول چې په کال کې یوازې دوه کتابونه ولیکي.

۱۱. تساي لون چې د چین هېواد اوسېدونکی وو، په ۱۰۵ میلادي کال کې یې کاغذ اختراع کړ.

۱۲. په اتمه میلادي پېړۍ کې عرب سرتېرو له نیول شویو چینایانو څخه د کاغذ جوړولو طریقه زده کړه.

۱۳. په یوولسمه میلادۍ پېړۍ کې د کاغذ جوړونې لومړنۍ کارخونه د اروپا په اسپانیا ښار کې جوړه شوه.



Scanned with CamScanner

# څلورم څپرکی

د نړۍ د معتبرو سرچینو یعنې US News او World Report د راپورونو پر بنسټ وګړي د خپل عمر ۸ میاشتې د غیر ضروري بربښنالیکلونو په لوستلو، ۱۲ میاشتې د غیر ضروري تیلفوني اړیکو په ټینګولو او ۶۰ میاشتې په کتارونو او صفونو کې په درېدو تېروي. یعنې موږ کابو ۸۰ میاشتې وخت بې ګټې ضایع کوو، نو په دغه وختونو کې چې بل کار نه شو ترسره کولای، که له ځان سره کتاب ولرو او ویې لولو، کولای شو چې په دغه موده کې کابو ۳۲۰ کتابونه ولولو او له خپل وخت څخه مثبته ګټه واخلو.

**رابین شرما**



Scanned with CamScanner

# څه ډول باید مطالعه وکړو؟

دا چې مطالعه باید څه ډول وکړو، ځواب به یې د نړۍ د غوره لوستونکو او مشاهیرو د مطالعې له ډول څخه ترلاسه کړو.

**(۱) لېوالتیا**

**تاکیو**

ولې هر جاپانی باید د ورځې ۸ ساعته د ځان او ۱ ساعت د خپل هېواد لپاره کار وکړي؟

تاکیو د خپلو لوړو زده کړو د تر سره کولو لپاره د جرمني په خوا لاړ، که څه هم هغه په هامبورگ پوهنتون کې زده کړې کولې خو غوښتل یې، چې د خپل هېواد لپاره ماشینونه جوړ کړي.

هغه د پوهنتون پر درسونو سربېره هم ډېر سخت کار کاوه، څو د خپل هېواد لپاره ماشینونه جوړ کړي. له پوهنتون څخه چې فارغ شو، نو پوه شو چې باید په شخصي توگه کار وکړي، همداسې یې وکړل. پوره ۱۸ کاله یې خواري وکړه چې هره ورځ به یې ۳ ساعته خوب کاوه او یو وخت به یې ډوډۍ خوړله.

په دې موده کې یې وکولای شول چې د خپل هېواد لپاره ۱۰ ماشینونه جوړ کړي. له ۱۸ کلونو څخه وروسته یې پوره لس ساعته مسلسل خوب وکړ. له هغې وروسته باید هر جاپانی وگړی د ورځې ۸ ساعته د ځان او ۱ ساعت د خپل هېواد لپاره کار وکړي.



Scanned with CamScanner

هغه لېونی مینه درلوده څو داسې ماشینونه جوړ کړي چې جاپان پرې لیکل شوی وي، پوره اته لس کاله یې خواري وکړه او بریالی شو.

**مایکل فیلپس**

هغه څه موده مخکې په لامبو وهلو کې ۳ د سرو زرو مډالونه تر لاسه کړل. نن یوه بله سیالي هم لري، نو راځئ وګورو چې هغه د سیالۍ لپاره څنګه ځان چمتو کوي؟

که څه هم فیلپس تېره اونۍ په لامبو کې ۳ د سرو زرو مډالونه تر لاسه کړل خو نننۍ سیالي هغه یې تر ټولو هغو ډېره مهمه وه.

هغه په ۱۰ بجو د ۲۰۰ مترو په اندازه سیالي لرله، خو له سیالۍ څخه مخکې یې سخت تمرین پیل کړ. هغه لومړی د خپل مهال وېش له مخې سبا ناری وکړ او وروسته یې د ۸۰۰ متره، ورپسې ۶۰۰ متره، بیا د ۴۰۰ متره، د ۲۰۰ متره او په پای کې د ۲۵ متره لامبو وکړه، یعنې هغه په همدې ورځ کابو ۲۰۲۵ متره تمرین وکړ.

نو تاسې څه فکر کوئ چې د ۲۰۰ متره لامبو لپاره چې څوک په یوه ورځ کې ۲۰۲۵ متره تمرین وکړې، نو بریالی به نشي؟

هرو مرو به بریالی کېږي او د دې بریا لامل یې له لامبو سره د بې سارې مینې پایله ده.

نو دا چې کابو د ژوند په ټولو چارو کې لېوالتیا مهم اصل بلل کېږي، په مطالعه کې هم یاد اصل ته ډېر پام کېږي او د نړۍ د مشاهیرو د مطالعې تر ټولو اړین او د پام وړ اصل د خپلې خوښې د کتابونو لوستل وو. دلته

به تاسو د هغه لوستونکو په اړه پوه شی، چې د خپلې خوښې کتابونه یې لوستي وو.

## امام بخاري

هغه له دیني زده کړو سره ډېره مینه درلوده او تل به یې لیک او لوست کاوه. د یادو هڅو په پایله کې یې د صحیح البخاري کتاب ولیکه او په دې سره د ځمکې پر مخ تر ټولو لوی عالم وبلل شو.

## ولټېر

ولټېر له ادبیاتو سره ډېره مینه درلوده، له همدې امله یې تل په دې برخه کې زده کړې کولې. هغه کابو ۹۹ کتابونه ولیکل او د اوولسمې پېړۍ د ادبیاتو د لمر لقب یې ترلاسه کړ.

## اناتول فرانس

فرانس هم د خپلې خوښې زده کړو په برخه کې ډېرې هڅې وکړې چې په پایله کې د فرانسې د نثر د پاچا لقب ورکړل شو.

## احمد شاملو

دا چې هغه له شعر سره نه پرې کېدونکې اړیکې دردلودې، له همدې امله یې له ډېرو هڅو وروسته د سپین شعر د بنسټګر لقب ترلاسه کړ.



Scanned with CamScanner

**ګابریل ګارسیا مارکز**

نوموړي که څه هم حقوق لوستي وو خو مینه یې له ادب او ادبیاتو سره وه. هغه له ماشومتوبه له ناولونو سره مینه درلوده او تل به یې ناولونه لوستل چې په پای کې یې د «سل کاله یوازېتوب» په نوم ناول ولیکله. یاد کتاب د نړۍ لوی شهکار بلل کېږي.

**(۲) موخه**

د نړۍ د مشهورو خېرو د بریا یو مهم اصل موخه ټاکل بلل شوي دي چې ښې بېلګې یې په لاندې ډول دي.

**ماونټ ایورسټ**

په نړۍ کې تر ټولو هغو دنګه د غره څوکه په نیپال کې د ماونټ ایورسټ څوکه ده چې (۸۸۵۰) متره لوړوالی لري. د ایډموند هیلاري په نوم یوه کس وغوښتل چې همدې دنګې څوکې ته د لومړني کس په توګه وخېژي. هغه پوهېدو چې د خپل سفر پر مهال به له ډېرو ستونزو سره مخ شي خو دا چې قوي هوډ یې درلود، نو یاد سفر یې پیل کړ. هیلاري ونشوای کولای چې لومړی ځل بریالی شي هغه په داسې حال کې چې له غره څخه راښکته کېده ویې لیدل چې ځینې ملګري یې مړه شوي دي. خو خپل هوډ یې په یاد و او په دې باور و چې که غر لوړ هم دی خو زه په پرله پسې هڅو له هغه څخه ډېر لوړ کېدای شم. هماغه و چې په دویم ځل یې له خورا ډېرو ستونزو وروسته وکولای شول چې ماونټ ایورسټ ته د لومړني کس په توګه وخېژي. د هیلاري د بریا راز په دې کې و چې ځان ته یې موخه وټاکله او سخت کار یې ورته وکړ.

## د نړۍ تر ټولو لویه دښته

په ۲۰۰۶ میلادي کال کې دریو ملګرو وغوښتل چې داسې څه ترسره کړي چې خلکو ته ناشوني ښکاري. همداسې یې وکړل او د نړۍ تر ټولو لویې دښتې (صحرا دښتې) څخه پلي تېر شول.

کیوین لین، رې ذهاب او چارلي انګل چې سره ملګري وو، ویې غوښتل یو ناشونی کار ترسره کړي، دوی وغوښتل چې د نړۍ له تر ټولو لویې دښتې څخه د پښو په مزل تېر شي. یاده دښته ۶۹۲۰ کیلومتره ده چې کله پکې هوا ګرمه وي، کله ډېر باد وي او داسې نورې ډېرې ستونزې. همدا درې ملګري هم د خپل سفر په وخت ډېر وځورېدل، د ډېرې ګرمۍ له امله مریضان شول، ډېر شدید باد به لګېده او آن دا چې پخ دې لویه دښته کې یې لار هم ورکه کړه، خو له خپلې موخې یې لاس وانخیست. خپلو هڅو ته یې دوام ورکړ او د منظم مهالوېش له مخې به یې سفر کاوه. په پای کې یې وکولای شول چې له (۱۱۱) ورځو څخه وروسته خپله ناشونې موخه ترلاسه کړي.

دوی ځکه بریالي شول چې موخه یې وټاکله او په پرله پسې توګه یې سخت کار وکړ. نو ویې کولای شول چې هغه څه ترسره کړي چې نورو هغو ته ناشونی ښکارېدل.

## اوپرا ونیفري

په ماشومتوب کې څو ځلې جنسي تېری پرې وشو او د غربت ژوند یې کاوه، خو داسې وخت راغلو چې په اونۍ کې ۳۳۰۰۰۰۰ امرکایانو د هغې خپرونې کتلې او په میلونونو ډالر یې لرل.



Scanned with CamScanner

هغه نهه کلنه ماشومه وه چې د تره زوی لخوا پرې جنسي تېري وشو. دا یې وروستی ځل نه وه بلکې بیا بیا دا چاره تکرار شوه.

وینفري په یوه ډېره غریبه کورنۍ کې پیدا شوې وه، خو هغې با وجود د دومره ستونزو وغوښتل چې ډېره ښه ویانده شي.

هغې د خپلې موخې لپاره مسلسل هڅې کولې چې په پای کې له خپلې تمې څخه هم لوړه لاړه. د هغې خپرونې په اونۍ کې له ۳۳۰۰۰۰۰۰ څخه ډېر امرکایي کتوونکي لري. وینفرۍ د همدې لارې وکولای شول چې (میلیونونه) پیسې هم ترلاسه کړي.

وینفري چې د یادو پېښو څخه وروسته به ډېره ځورېده  و یې غوښتل چې نورې نجونې باید له ورته حالت سره مخ نشي نوځکه خو یې موخه وټاکله چې دا غږ به تر ډېرو رسوي چې همداسې یې وکړل.

دا چې یاد اصل یعنې د موخې ټاکل دومره د پام وړ مثبت بدلونونه راوړل نو د نړۍ مشاهیرو هم د مطالعې دویم اصل د خپلې خوښې په برخه کې د کتابونو د شمېر ټاکل وو، یعنې هغوی به ځانته موخه ټاکله  څو په اونۍ، میاشت او کال کې څومره کتابونه باید ولولي چې ځینې بیلګې یې په لاندې ډول دي.

## میچل

دا چې هغه ۷۰ کاله عمر درلود او بل فزیکي کار توان یې نه درلود، نو تل به یې مطالعه کوله. هغه د ۸ کلونو په اوږدو کې ۵۰۰۰ کتابونه ولوستل.



Scanned with CamScanner

## فیټ جیکسن

دا چې هغه ۹ کلنه ماشومه وه نو د ښوونځي له درسونو پرته یې بله بوختیا نه درلوده، له همدې امله یې په خپل اضافي وخت کې تل مطالعه کوله. هغې وکولای شول چې په ۳ کلونو کی ۲۰۰۰ کتابونه ولولي.

## فیډل کاسترو

نوموړی چې کله په زندان کې وو، نو په هرو ۲۴ ساعتونو کې به یې ۱۵ ساعته مطالعه کوله.

## انتونی رابینز

هغه وکولای شول چې د ۷ کلونو په اوږدو کې د ارواپوهنې ۷۰۰ کتابونه ولولي.

## جې شي ټي

دا چې هغه په ژوند کې نورې بوختیاوې هم درلودې، بیا یې هم کولای شوای چې په کال کې ۳۶۰ کتابونه ولولي.

## بیل ګېټس

هغه د نړۍ دویم شتمن کس بلل کېږي، ښکاره ده چې ډېرې بوختیاوې به ولري، خو نوموړی له خپلو ټولو بوختیاوو سره سره بیا هم په کال کې ۵۲ غوره کتابونه لولي.



Scanned with CamScanner

## (۳) مسلکي مطالعه

### پریتز کریسلر

که یوه ورځ تمرین و نکړم، نو خپلې کمزورۍ رامعلومېږي.

کرسیلر چې د خپل وخت تر ټولو غوره پیانو غږوونکی و، هیمشه به یې تمرین کاوه تر څو په خپل مسلک کې تر ټولو هغو غوره اوسي.

هغه د ځان په اړه وایي (که یوه میاشت تمرین ونکړم نو په اړه یې له اورېدونکو پوښتم، که یوه اونۍ تمرین ونکړم له خپلې مېرمنې څخه یې پوښتم خو که یوه ورځ تمرین ونکړم نو زه پخپله پوهېږم چې له ضعف سره مخ شوی یم).

دا چې کریسلر په پرله پسې ډول په خپل مسلک کې خواري وکړه نو د خپل وخت د غوره پیانو غږوونکي نوم یې خپل کړ.

### مارک سپایتز

هغه د خپلې موخې د تر لاسه کولو لپاره په څلورو کلونو کې پوره ۱۰۰۰۰ ساعته سخت تمرین وکړ.

هغه په لامبوکې ۷ مډالونه اخستي وو، او ریکارډ یې له ځان سره درلود. هغه دا مډالونه د ښه بخت له امله نه، بلکې د سخت کار له امله تر لاسه کړل.

سپایتز په ۴ کلونو کې ۱۰۰۰۰ ساعته تمرین وکړ، یعنې هره ورځ به یې ۸ ساعته کار کاوه. د هغه د همدې هڅو پایله وه چې هغه وکولای شول چې په لامبو کې ۷ مډالونه تر لاسه کړي او ریکارډ یې له ځان سره ولري.



Scanned with CamScanner

## ټيري فوکس

هغې به هره ورځ ۲۶ مايله منډه کوله چې ياده چاره يې ۱۴۳ ورځې په مسلسله توګه تر سره کړه.

سلوى العضيدان په خپل مشهور اثر ( مه نا اميده کيږه ) کې د ټيري فوکس په اړه کسيه کوي. وايي هغه ۱۸ کلنه وه چې د هډوکو سرطان ورته پيدا شو چې ډېر په چټکۍ سره يې په وجود کې روان و.

هغه تسليم نشوه او هره ورځ به يې ۲۶ مايله منډه وهله، هغې ياده چاره ۱۴۳ ورځې په مسلسل ډول ترسره کړه.

فوکس د سيالۍ تر پيلېدو د مخه ۳۳۳۹ مايله منډه وکړه او په پای کې بريالۍ شوه.

يادو کسانو (کريسلر، سپايټز او فوکس) په خپل مسلک کې دومره خواري وکړه چې اوس يې هم نومونه د بيلګو په ډول راوړل کېږي.

اوس به د لا ښې او مسلکۍ مطالعې لپاره د نړۍ د ځينو غوره لوستونکو نظريې ولولو.

## هيګل:

هيګل يا د فلسفې پاچا، نوموړی به تل پر مطالعه بوخت وو، کله به يې چې مطالعه کوله، په کتاب کې به يې يوازې اړين ټکي په نښه کول او کله به يې چې د ياد کتاب د بيا لوستلو اراده وکړه، نو يوازې په نښه شوي ټکي به يې لوستل.

**مټ موریس:**

موریس چې کلونه کیږي مطالعه کوي او سلګونه نړیوال اثار یې لوستي دي، پدې اند دی چې د مطالعې پر مهال اړین ټکي په نښه کول او د یادښت په کتابچه کې لیکل د مطالعې مهم اصل دی. هغه کولای شي چې په خپلو لوستلو کتابونو باندې په لږ وخت کې بیا کتنه وکړي، ځکه چې د ټولو لوستو کتابونو اړین ټکي یې له ځان سره نوټ کړي دي.

**بیل ګېټس:**

بیل د نړۍ په کچه یو غوره لوستونکی دی، هغه په خپله یوه مرکه کې ویلي وو چې زه د مطالعې پر مهال د کتاب اړین ټکي له ځان سره یاداښت کوم، له همدې امله اړینه نه ده چې بل ځل ټول کتاب له سره ولولم.

**براین ټریسي:**

ټریسي چې د نړۍ په کچه یو مشهور لیکوال دی، په دې باور دی چې د څو ځلې لوستلو په پرتله یوازې یو ځل د هغه متن لیکل ډېر څه را زده کولای شي.

**اکسفورډ:**

اکسفورډ چې د انګلستان لومړنی او په نړۍ کې تر ټولو مشهور پوهنتون دی، په یاد پوهنتون کی د مطالعې اړوند شوې څېړنې ښایي چې د مطالعی غوره لار او اصل د مهمو برخو په نښه کول او نوټ کول دی.



Scanned with CamScanner

# دمه

- **اپیکور:** خوند لټوونکی فیلسوف بلل کیږي.
- **ډیوژن:** نوموړی یې سپی فیلسوف بللو.
- **سقراط:** د فلسفې پلار بلل کیږي.
- **ارسطو:** د بشر لومړنی ښوونکی بلل کیږي.
- **جېمز واټ:** د صنعتي انقلاب پلار بلل کیږي.
- **البرټ انشټین:** د شلمې پیړۍ تر ټولو غوره عالم بلل کیږي.
- **توماس اډیسن:** د اختراع پلار بلل کیږي.
- **آدام سمېت:** د عصري اقتصاد پلار بلل کیږي.
- **اناتول فرانس:** د فرانسې د نثر پاچا بلل کیږي.
- **احمد شاملو:** د سپین شعر بنسټګر بلل کیږي.
- **پابلو پېکاسو:** د انځورګرۍ پلار بلل کیږي.
- **محمود محفوظ:** د نوبل جایزې لومړنی مسلمان ګټونکی بلل کیږي.



Scanned with CamScanner

# پنځم څپرکی

څه موده مخکې یوې څیړنې ثابته کړه چې د کابل پوهنتون شپېته سلنه محصلین په ژور خفګان اخته دي.

تاسې د دې خفګان لامل څه بولئ؟

-----------------------------------------------------------------------------

-----------------------------------------------------------------------------

-----------------------------------------------------------------------------

-----------------------------------------------------------------------------

-----------------------------------------------------------------------------

پدې څپرکي کې د هغو ستونزو حل لارې بیان شوي دي چې د لوستوونکو د خفګان او د مطالعې د کمښت لامل کېږي چې ښه بېلګه يې همدا د کابل پوهنتون محصلین کیدلی شي.



Scanned with CamScanner

هغه ستونزې چې لوستوونکي ترې ځورېږي او نه پرېږدي هغوی ښه مطالعه وکړي چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

مطالعه کوم خو زده کېږي مې نه.

مطالعه کوم خو سرعت مې ډېر آهسته دی.

غواړم مطالعه وکړم خو ډېر بوخت یم .

مطالعه کوم خو څه موده وروسته مې له یاده وځي.

مطالعه کوم خو چې څنګه کتاب را واخلم خوب راشي.

مطالعه کوم خو له څو دقیقو وروسته ورسره  ستړی کېږم .

غواړم مطاله وکړم خو حوصله یې نه لرم.

مطالعه مې ډېره خوښه ده خو امکانات یې نه لرم.

مطاله کوم خو تمرکز نه لرم.

غواړم مطالعه وکړم خو نه پوهېږم چې څنګه.

مطالعه کوم خو په ژوند کې یې نشم عملي کولی.

مطالعه ډېره کوم خو هېڅ ګټه یې نده کړې.

کتاب پیل کړم خو پای ته یې نشم رسولی.

غواړم مطالعه وکړم خو اوس ډېرې ستونزې لرم.

د یادو او ورته نورو ستونزو د حل لپاره ښایي د نړۍ د مشاهیرو هغه کړنلارې مرسته راسره وکړي چې هغوی به د ستونزو د حل په موخه کارولې.



Scanned with CamScanner

۱. څه فکر کوئ چې محمد علي کلې ولې د خپل وخت تر ټولو هغو غوره سوک وهونکی بلل کېده؟

۲. مایکل جورډن ولې د خپل وخت تر ټولو غوره د باسکیټبال لوبغاړی ونومول شو؟

۳. د اوپرا وینفري خپروني ولې یوازې په امریکا کې په اونۍ کې ۳۳ میلیونه کتوونکي لري؟

۴. مایکل انجلو څنګه ترټولو هغو غوره هنرمند بلل کېده؟

۵. چارلي چاپلین څنګه وکولی شول چې کابو ټول نړیوال وخندوي؟

۶. مایکل جکسن بیا څنګه وکولی شول چې د نړۍ غوره نڅاګر شي؟

۷. ټیري فوکس څنګه په منډه کې د سرو زرو مډال تر لاسه کړو په داسې حال کې چې د هډوکو په سرطان اخته وه؟

۸. مایکل فلیپس څنګه بیا په یوه ورځ کې درې د سرو زرو مډالونه تر لاسه کړل؟

۹. د مارک سپایټز د دومره بریا راز په څه کې وو؟

۱۰. جیف بیزوس څنګه د نړۍ د لومړني شتمن په توګه پېژندل کېږي؟

۱۱. ډیموستین څنګه وکولی شول چې داسې خطیب شي چې زرګونه کاله وروسته یې هم نوم هېر نشي؟



Scanned with CamScanner

۱۲. تریسا مور بیا څنګه وکولی شول چې په نړۍ کې د غوره ښوونکي نوم خپل کړي؟

۱۳. ایډ موند هیلاري څنګه وکولی شول چې په نړۍ کې تر ټولو لوړې د غره څوکې ته د لومړني وګړي په توګه وخېژي؟

۱۴. کیوین لین، رې زهاب او چارلي انګل څنګه په نړۍ کې د تر ټولو لویې دښتې څخه پلې تېر شول؟

نو ګرانه لوستونکیه څه فکر کوې چې دغه کسانو به په پیل کې ستونزې نه لرلې، که مایکل انجلو څلور کاله په پرله پسې توګه د شا په تخته نه وی پروت او کار یې نه وی کړی هغه به دومره بریالی شوی وو، که مایکل فلیپس دولس کاله له دمې پرته کار نه وی کړی بریالی شوی به وی، که مارک سپایټز پوره لس زره ساعته د لامبو تمرین نه وی کړی ښه لامبوزن کیدلی شوو، او که ټیري فوکس پوره ۱۴۳ ورځې هره ورځ ۲۶ مایله منډه نه وی کړې نو هغې به د سرو زرو مېډال تر لاسه کړی وی؟

دوی هم په پیل کې خورا ډېرې ستونزې لرلې خو په پای کې بریا لي شول هغه ځکه چې واضح او قاطع موخې یې لرلې، قوي ارادې یې لرلې، سخت کار یې وکړو،مبارزې یې وکړې ،ښه لید لوری یې لرلو او د مثبت فکر خاوندان ول.

اوس که تاسې هم د هغوی په څېر زحمتونه وګالی، نه یوازې دا چې په مطالعه کې به مو ستونزې حل شي بلکې د سیمې، هېواد او یا هم ښایي د نړۍ په کچه غوره لسوتوونکي شی.

# شپږم څپرکی

که د نادرۍ او زیاتې پوهې لرونکي شخص سره مخ شوی، هرو مرو ترې وپوښتئ چې کوم کتابونه لولی؟

«رالپ ایمرسن»



Scanned with CamScanner

۱. تاسې ولې مطالعه کوئ؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۲. تاسې کله مطالعه پیل کړه؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۳. تاسې له کوم کتاب څخه مطالعه پیل کړه؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۴. تاسې چا مطالعې ته وهڅولی؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................



Scanned with CamScanner

۵. تېر کال مو څو کتابونه ولوستل؟

............................................................................................................

............................................................................................................

............................................................................................................

۶. اوس کوم کتاب لولې؟

............................................................................................................

............................................................................................................

............................................................................................................

۷. تر اوسه مو څو کتابونه لوستي دي؟

............................................................................................................

............................................................................................................

............................................................................................................

۸. غواړې سږ کال څو کتابونه ولولې؟

............................................................................................................

............................................................................................................

............................................................................................................



Scanned with CamScanner

۹. غواړی راتلونکی کال څو کتابونه ولولی؟

...............................................................................................................

...............................................................................................................

...............................................................................................................

۱۰. تر اوسه مو کوم کتابونه ډېر خوښ شوي دي؟

...............................................................................................................

...............................................................................................................

...............................................................................................................

۱۱. تاسې په کومو برخو کې کتابونه لولی؟

...............................................................................................................

...............................................................................................................

...............................................................................................................

۱۲. لوستو کتابونو مو په ژوند څه اغېز کړی؟

...............................................................................................................

...............................................................................................................

...............................................................................................................



Scanned with CamScanner

۱۳. ستاسې کوم ملګري ډېره مطالعه کوي؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۱۴. تاسې د چا له مطالعې څخه اغېزمن شوي یاست؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۱۵. تاسې کتاب څه ډول تعریفوی؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۱٦.که ستاسې ژوند کتاب وای، نوم به یې څه وو؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................



Scanned with CamScanner

۱۷. تاسې ته تر اوسه کومو ملګرو کتابونه ډالۍ کړي دي؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۱۸. غواړې چې خپلو ملګرو ته کوم کتابونه ډالۍ کړې؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۱۹. مطالعې مو په ژوند څه اغېز کړی؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................

۲۰. تاسې په کوم وخت کې مطالعه کوئ ؟ ولې؟

..............................................................................................

..............................................................................................

..............................................................................................



Scanned with CamScanner

۲۱. تاسې په څه ډول ځای کې مطالعه کوئ ؟ ولې ؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۲۲. تاسې څه ډول کتابونه لولئ ؟ ولې؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۲۳. تاسې څه ډول مطالعه کوئ ؟ ولې؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

۲۴. ایا د مطالعې پر وخت نښه کوونکی قلم او د یادښت کتابچه کاروئ؟ ولې؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................



Scanned with CamScanner

۲۵. د دې کتاب د لوستلو سپارښتنه چا درته وکړه؟

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

۲۶. دا کتاب مو ولې ولوست؟

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

۲۷. ایا غواړې دا کتاب کوم چانه ډالۍ کړې؟ چا ته؟

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................

۲۸. په دې کتاب کې مو کومې برخې د بیا ویلو وړ وګرځېدې؟ ولې؟

.......................................................................................................

.......................................................................................................

.......................................................................................................



Scanned with CamScanner

# اخځلیکونه

١. له ناکامۍ يې زده کړه
٢. د نړۍ سل مشهورې څېرې
٣. فکر وکړئ او شتمن شئ
٤. د لوی فکر جادو
٥. مه نااميده کېږه
٦. شل نوبل ګټونګي
٧. د بنجامين فرانکلين ژوند ليک
٨. بيل ګېټس څوک دی؟
٩. موخې
١٠. د نړۍ زړه راښکونکي مالومات
١١. شگفته هاى خداوند در بدن انسان

Scanned with CamScanner

حمید الله همت



که هر ماښام د تلویزیون کتلو پر ځای پنځلس دقیقې مطالعه وکړئ، په کال کې به مو ۱۵ کتابونه لوستي وي. که په همدې ډول مطالعې ته دوام ورکړئ، نو په ۷ کلونو کې به مو ۱۰۰ غوره کتابونه لوستي وي.

په دې توګه به تاسو د خپل نسل یو له تر ټولو غوره لوستو کسانو څخه وګڼل شئ. یادې موخې ته هره شپه تر ویده کېدو مخکې یوازې د ۱۵ دقیقو مطالعې پر مټ رسېدلای شئ.

برایان ټریسي

Scanned with CamScanner